مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۴/۰۵/۰۹

# پښتانه، د نړۍ ترټولو سوله ایز قوم دی



د خان، ملک او ملا مثلث چا او ولې رنګ کړ؟ آیا پښتانه رښتیا توندلاري او د تشدد لارویان دي؟ موږ ولی ځینو پخوانیو شاعرانو ته بابا ګان وایو؟ د همدې او نورو پوښتنو د ځوابونو په خاطر مې د ملی سرود د شاعر او د اطلاعاتو او کلتور له پخواني وزیر، ښاغلي عبد الباري جهاني سره ځانګړې مرکه کړې چې ستاسې په خدمت کې ده.

جهاني صیب: تاسې ۱۶ د نظم او شاعرۍ اړوند او ۱۸ کتابونه د نثر په برخې کې لیکلي او درې نور د چاپ په درشل کې دي، دا راته ووایه چې د نظم په لیکلو کې راحت احساسوې که نثر په آسانه لیکې؟
ځواب: د شعر لیکل ډیر تلاش او خواري نه غواړي، البته زه همیشه له ځوانانو سره په دې ټکي ټینګار کوم چې د شعر لپاره هراړخیزه مطالعه وکړي او د کلاسیک شعر لپاره خو بیا ځانګړې مطالعه لازمي ده. زما په آند د شعر لوستل د نثر له لوستلو څخه اسان وي ځکه چې شعر معمولا لنډ وي. هر نثر او په ځانګړي ډول څیرنیز نثر کافي، وخت او زحمت ته ضرورت لري. خو فکر کوم چې د تاریخ نثر ترټولو ستونزمن او لانجمن کار دی. دلته باید لیکوال مطلق بې پرې و اوسي او د یو ویښته په اندازه هم د کوم اړخ خواته میلان او د پلوۍ احساس ونه لري.

پوښتنه: پښتني ټولنې عبد الرحمان، خوشحال خټک او حمزه شینواري ته د میرویس نیکه او احمد شاه دراني په څیر، د بابا ګانو القاب کاروي. آیا فکر کوې چې پښتانه خپلو شاعرانو ته د دغو نیکو په کچه احترام لري؟
ځواب: درناوی په خپل ځای ښه کار دی، خو زما له نظره ټول پښتانه ټولو شاعرانو ته بابا نه وایي، خوشحال خان او غني ته ډیر کم وګړی بابا وایي. د بابا نوم او لقب ډیره پخوانۍ سابقه نه لري؛ په شلمې پیړۍ کې یو شمیر ادیبان او شاعران په پیښور کې راغونډ شول او عبدالرحمن مومند ته یې د بابا لقب ورکړ چې هغه یې په رښتیا وړ او مستحق وو. له هماغې راهیسې د بابا کلمه د هغه د نوم یوه برخه وګرځیدله او د شعر او شخصیت اغیز یې د زمانې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په تيريدو سره همداسې اغيزمن پاتې دی چې بل څوک د غه مقام ته نه دې رسيدلی.

پوښتنه: زموږ په ټولنې کې متاسفانه هنرمندانو ته په ټيټه سترګه کتل کيږي او دم ورته وايي چې البته زه پخپله له دې اصطلاح سره هيڅ موافق نه يم. د ډاکټر ناشناس په ګډون، ډيرو هنرمندانو ستا اشعار سندريز کړل، هغه يې کمپوز کړل او له دې درکه ډير مشهور شوی هم شول؛ آيا دوئ تاته د سندريزو اشعارو فرمايش درکوي، که ستا نظمونه يې له اجازې پرته کمپوز کړي او پخپل سر يې ويلي دي؟
ځواب: له ما څخه نه چا اجازه اخيستې او نه ما چا ته اجازه ورکړيده؛ بلکې دوئ د خپلي سليقې او اړتيا له مخې زما شعرونه انتخاب او کمپوز کړيدي. زه بايد په ډاګه ووايم چې د فرمايش د اخيستلو استعداد نه لرم او نه يې ليکلای شم. ما پخپل ژوند کې د چا لپاره فرمايشي شعر نه دی ليکلی. حتی ډاکټر صيب ناشناس زما شعرونه پرته زما له اجازې او مشورې کمپوز کړي او ويلي يې دي چې زه بيا ځلور پنځه کاله وروسته ورسره مخ شوی يم.

جهاني صيب: ته د ښاغلي حامد کرزي پخواني دوست، کليوال او ملګرې يې، خو وزارت درله ښاغلي ډاکټر اشرف غني درکړ، کيدای شي وجه يې راته ووايې؟
ځواب: بلې، له کرزي صيب سره زما دوستي ډيره پخوانی او نژدې ده؛ تراوسه هم يو له بل سره ارتباط لرو او يو بل ته د اختر مبارکۍ ورکوو. زه به چې کله کابل ته لاړم نو دوه درې شپې به يې خامخا په کور کې ميلمه ووم او د ماښام ډوډۍ به مې ورسره خوړله. خو کرزي صيب کله هم له ما څخه غوښتنه نه وه کړې چې د هغه د کابينې وزير شم. البته ډاکټر صيب اشرف غني چې يو عالم سړی دی، اوس هم ورته ډير درناوی لرم او له پنځه ځلويښتو کالو راهيسې ورسره پيژنم؛ يو ماښام يې راته پخپله ټليفون وکړ چې د لوړو ښوونو او د اطلاعاتو او کلتور د وزارتونو پوستونه خالي لرو. نو څرنګه چې زه له مطبوعاتو او راډيو ټلويزيون سره زړه سابقه لرم، نو د دغه وزارت چارې يې ماته را وسپارلې. کله چې ما وليدل هغه څه چې زه يې بايد ترخپلې وسې وکړم، ما ونه شو کولای تر سره يې کړم ځکه حالات بل ډول وو نو ما استعفا ورکړه او د هغې دلائل مې په تفصيلي ډول تشريح کړل.

جهاني صيب: زموږ په دوديزې ټولنې کې د خان، ملک او ملا يو مثلث شتون درلود، د هر چا حد او سرحد معلوم وو او له برکته به يې د کلي او کور ستونزې مخکې له دې چې علاقدار، ولسوال او والي ته ورلندې شي پخپلو منځونو کې هوارولې. يا په بلې معنا غوټه به د غاښ په ځای، په لاس خلاصيدله. لطفا راته ووايه چې دغه مثلث چا او ولې ړنګ کړ؟
ځواب: هو، لکه تا چې ورته اشاره وکړه زموږ په ټولنې کې دغه مثلث موجود وو او زموږ واکمنانو هم منلی او ساتلی وو. ولس ورته د يو ډول کلتوري او ټولنيز تقدس په سترګه کيدل؛ خو دا مثلث د ثور کودتا مات کړ. د ثور له فاجعې څخه وروسته جهاد شروع شو او پرله پسې انقلابونه راغلل. مجاهدين راغلل، بيا طالبان راغلل، بيا امريکايان راغلل او دا دي طالبان بيا راغلل. له دې ټولو سترو بدلونونو سره بهرني ځواکونه او لاسوهنې هم مل وې، نو دغه ډول مثلث چې په هرې ټولنې کې شتون ولري هغه به ماتيږي. په ايران کې يو انقلاب راغی، ولی هغه ټولنيزه اډانه او باورونه چې د رضا شاه تر زماني پورې په ايران کې موجود وو، هغه مات شول. دلته د ثور د کودتا په مقابل کې اجتماعي عکس العمل ډير توند وو، ځکه د خلقيانو کړنې ډيرې شديدې وې.

پوښتنه: څه فکر کوې د تشدد او توندلارېتوب دغه نظريه او څپه چې د ډيورنډ د ليکې دواړه خواوې ځوروي، له کومه شوه؟ ټول ګورو چې د همدغو ډلو له وجې پښتانه په دې تور تورن چې دوئ توندلاري او اورپکي دي، د قلم په ځای ټوپک او د سولې په ځای جګړه خوښوي؟
ځواب: برعکس، ما هر وخت ويلي او وايم چې په دنيا کې ترهرچا زيات سوله خوښې او پُر امنه قوم، همدا پښتانه دي. په پښتنو باندې جنګ تپل شويدی، دوئ جنګيالي دي خو هله جنګ کوي چې بل څوک يې د دوئ په خلاف پيل کړي. دا جنګونه ورباندې مغلو، انګريزانو، شورويانو، امريکايانو او پاکستانيانو تحميل کړيدی. دا جګړې، د پښتنو خپلې جګړې نه دی؛ پښتون قوم جنګيالی دی خو جګړه مار نه دی او د پښتنو د تاريخ ټول جنګونه دفاعي دي. ډير قومونه شته چې کله ورباندې تعرض شوی نو يا يې هيڅ مقاومت نه دې کړې او يا يې ډير لږ کړيدی؛ خو کله چې د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ

پښتون په مذهب، خاورې او کلتور باندې برید شوی، بیا یې نو ډېره تونده او کلکه دفاع کړېده. د ثور د کودتا په مقابل کې یې ډېر سخت عکس العمل وښود. علت یې همدا وو چې نورمحمد تره کی او دغو نور، که څه هم د همدې ټولنې بچیان او دلته زیږیدلي وو، خو خپله ټولنه او د هغې عنعنات یې نه پیژندل او د واک په اوله میاشت یې حملې شروع کړې. خلقیانو به سزا لیدلي وي یا به یې نه وي، خو دې قوم ډېره سخته سزا ولیدله.

جهاني صیب: هیڅ شک نه شته چې اوس مهال ته د هیواد او بلکې د ټولو پښتنو په کچه یو منل شوی شاعر، مورخ او څېړونکي یې، خو دا هم څرګنده ده چې ته محدث او شرعي عالم نه یې. د (وهابیان څوک دي؟) په نوم یو کتاب دې ولیکه چې ما هم لوستی دی. په دې وروستیو کې، د ځینو احادیثو، فتوا ګانو او د اسلامي تاریخ د ځینو خونړیو پیبنو په هکله ستا ځیني مقالې او څېړني خپرې شوې. لوستونکو داسې وانګیرله چې ګواکې تاهغه نقد کړې او ګواکې بل نظر لرې؛ آیا همداسې ده او دا انګیزه درته څرنګه پیدا شوه؟
ځواب: د یو مسلمان په توګه، ما هیڅکله په هیڅ صحیح حدیث باندې هیڅ انتقاد نه دی کړی او نه یې لرم. کله چې ما د تصوف او اسلام په نوم کتاب ولیکه چې ممکن تا به لوستې وي؛ هغه مهال څه خلکو زما دا کتاب په ځینو مذهبي باورونو باندې تیرې وباله، ځکه دوئ د تصوف دغه طبقه خلک ډېر مقدس بلل او ما د تقدس دغه سرحد مات کړ. ما خو د دوئ له کتابونو څخه دغه موضوعات را اخیستي او په هغو مې استناد کړېدی. زما همیشنۍ هڅه دا وي چې لیکنه مې مستنده او له دلیل سره وي. د احادیثو په اړه ما همدومره لیکلي چې کله د یوې موضوع په اړه درې څلور مختلف روایتونه وي، نو ښکاره ده چې یو له بل سره به تناقض لري. دا څرنګه ممکن ده چې د یوې موضوع په هکله دې څلور واړه روایتونه صحیح وي؟ یقینا چې یواځې یو به یې صحیح او کره وي. یا ځینې شیان دي چې زموږ عنعنې ته راننوتي چې هغه په احادیثو یا مذهب کې اصلا موجودیت نه لري.
د بیلګې په توګه، د سنګسار مسئله به را واخلو چې رجم یوازې د زنا سزا ده. په قران شریف کې د رجم مسئله هیڅ شتون نه لري او د هغې د اثبات لپاره د څلورو ګواهانو د ګواهی په کچه سخت شرائط وضع شویدي کوم چې اصلا غیر ممکن دي. زما په باور، دا په بنده ګانو باندې د الله تعالی خاص رحم دی چې دا حدود یې دومره سخت کړي او سل دُرې سزا یې ورته ټاکلې ده. ما کوښښ کړې چې پخپلو لیکنو کې یوه لاره خلاصه کړم؛ چونکه موږ ټول مسلمانان یو نو دین، مذهب او مذهبي کتابونه باید له انحصار څخه را وویستل شي. پاتې شوه زما د دیني زدکړې خبره، نو ملکزی صیب ما تر یولسم صنف پورې په مسجد کې دیني درسونه لوستي دي. له ملا محمد نور آخوند، ملا عبد الحمید آخوند او له ملا عبدالستار آخوند څخه مې د تفسیر، فقهې، عقائدو او صرف او نحوې درسونه لوستي دي. موږ او مذهب جوخت را روان یو او موږ ورسره بیګانه نه یو. ما چې هرکله کومه مذهبي موضوع لیکلې، نو د کتاب نوم، صفحه او حتی شماره مې ورسره یاده کړېده. بله دا چې بنده خو له سهوې خالي نه دی؛ که چیرې شوې وي نو زه یې عفوه غواړم.
پوښتنه: پښتو شعر جهاني ته څه ورکړل او جهاني، شعر ته څه ورکړل؟
ځواب: که ډېره شکسته نفسي ونه کړم نو ما پښتو شعر ته ډېر څه نه دي ورکړي، بلکې اصلي خبره دا ده چې شعر زما خواته راغلی او ما لیکلی دی. زه ترهغې د شعر په لټه کې نه یم ترڅو ماله پخپله نه وي راغلی. البته ځوانانو ته مې هروخت ویلي دي چې که څوک شعر لیکي نو باید ډېر جدي یې ونیسي، ځکه شعر د ټوکو ځیز نه دی. شاعر باید مطالعه ولري، خواری وکړي او پرله پسې یې ولیکي او دیته منتظر پاتې نه شي چې کله شعر راغی نو بیا به یې ولیکم. زه همدا اوس اشعار ډېر لولم ترڅو ډېر یې ولیکم، حتی د فارسي اشعار هم ډېر لولم.
جهاني صیب: ته نن د شعر او ادب د شهرت په بام ولاړ یې، ماته ویلای شې چې ستا آیډیل او د خوښې شاعران څوک دي چې ته یې اشعار لولې، خوند ترې اخلې او له هغوئ څخه یې زده کوې؟
ځواب: هغه مازې همدغه دوه خانان دي، یو یې خوشحال خان او بل یې غني خان.
جهاني صیب، که په یوې یوې جملې کې راته ووایې چې د ژوند ترټولو خوږه خاطره دې کومه ده چې نن دې هم خوله ورباندې خوږه او یاد یې تازه دی؛ همدا شان د ژوند ناخوالې خاطره دې کومه ده چې اوس دې هم ځوروي او د کړاو احساس یې تا نه پریږدي؟
ځواب: هغه خوندوره خاطره چې زما ژوند یې را جوړ کړې، هغه له ارواښاد صدیق روهي سره زما پیژندګلوي او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوستي ده. زه يې تل هڅولې يم، زما ننګه يې کړې او ډېره زمينه يې راته برابره کړېده. که د روهي صيب همکاري زما په ژوند کې نه وه، نو ما به نه په کوم سيمنار کې برخه اخيستې وه او نه به مې دومره ليکنې کړې وې لکه څومره چې نن دي. او د ژوند تر ټولو ناخوالې خاطره مې؛ د لومړنۍ ميرمنې وفات او له ما څخه د هغې جلا کيدل دي.

پای

د ليکوال نوي ليکنې په دې لينک کې ولولئ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ